مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۵/۰۲/۰۵

# د سوریې د ولسمشر میرمن، لطیفه الدروبي څوک ده؟



تیره اونۍ د لومړي ځل لپاره هغه کونکسي کونګي شوې چې ویل کېدل د سوریې نوی ۴۳ کلن ولسمشر، څلور میرمنې لري او ټولې په نقاب کې ګرځي. میرمن لطیفه د حِمص ولایت د الدروبي په مشهورې کورنۍ کې زیږېدلې، په عربي ادب کې یې د اِدلِب له پوهنتون څخه ماستري اخیستې او د درېو زامنو مور ده.

څلور ورځې وړاندې، د سوریې دغه لومړۍ میرمن د خپل میړه په څنګ کې د کعبې شریفې خونې ته د ننوتلو په حال کې ولیدل شوه. پرون په انقرې کې د ولسمشر رجب طیب اردوغان د میرمن، امینه اردوغان سره په جمهوري ماڼۍ کې راڅرګنده شوه چې د سوریې عامو میرمنو په څېر لباس یې په تن دی او موسکۍ ښکاري.

د شام وياړلی او متمدن ولس ښځو ته د نر په څېر د کامل، برابر او عاقل انسان په سترګه ګوري او د تعلیم او کار حق یې خوندي دی. حجاب د بنده او خالق ترمنځ موضوع ګڼي او په سوریه کې د مذهبي پولیسو په نوم کومه اداره شتون نه لري ترڅو د خلکو تَعبُدي او اِعتِقادي مسائل وڅاري.

الله مې دې زاړه ایمان ته خبر کړي!

په مننې سره، دغه عکس مې د «الشرق الاوسط» له ورځپاڼې څخه کاپي کړیدی



د لیکوال نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ